# خان شهید یو تحریک یو تاریخ

## Khan Shaheed A Revolutionary Personality.

**Mohammad Usman Tobawal**
**Faizullah Panizai**

## Abstract:

(A lot of literature is available on the work and biography of Abdul Samad Khan Shaheed, but through this article and attempts is made to bring out all those unexplored aspects of his life which are yet not discussed, such as his contribution towards knowledge dissemination. Khan Shaheed's contribution in the field of knowledge dissemination is the reflection of his teacher- Maulana Abul Kalam Azad thoughts. Khan Shaheed is not only influenced by Azad's philosophy in the field of education dissemination but his political life was under the influence of his teacher's thought too. These characteristics have not only made Khan Shaheed as one of the greatest leaders but his these unique characteristics brought very positive changes in all aspects of life of the people of Southern Pakhtoonkhwa.

Although many authors have enlightened the biography/life style of Khan Shaheed but in this paper an attempt is made to bring out his contribution with special reference to literary work in the prevailed circumstances of that era in Southern Pakhtoonkhwa. This paper also elaborates the effects and impact of Khan Shaheed's literary work on the Pashto literature as well as his views about literature development in the light of the views of great scholars of the region).

**دخان شهید شخصیت او ژوند**: د شخصیاتو په اړه چې کله هم مونږ د تاریخ پاڼو ته ځیر شوي یو نو مونږ وینو چې لوئ خلك، نابغه خلك په یوائې سر د پاڅون او بدلون باعث ګرځي. داسې خلك په خپل ځان کښې هر اړخیز وي. هغه د ژوند په هر اړخ ډېر ژور نظر لري ځکه چې هغه پوهېږي چې بدلون نهٔ یوائې د ژوند په یوه شعبه کښې راتلای شي بلکې په هر اړخیزه توګه د بدلون راتګ ضروري دی. داسې خلك په داسې وخت کښې پیدا کیږي کله چې ټولنه ورته ضرورت ولري. او دا ضرورت یې خدای پاك د دې سوب له لارې ور پوره کوي. کله چې ټولنه د جبر، غلامۍ او تیارو ښکار شي بیا داسې خلك چې په دې تیارهٔ او د جبر ښکار شوې ټولنه کښې د بل ځراغ کار ور کوي او له تاریکو سره په جنګ اخته شي. په هم دې حواله په سهېلي پښتونخوا کښې چې کوم وخت ټولنه او اولس له داسې ستونځو سره مخامخ شوې وه په هغه وخت کښې

خان شهید عبدالصمد خان اڅکزی د یو داسي پیاوړي ملي مبارز په بڼه کښې ځان ښکاره کړ چې په برصغیر پاك و هند او په ځانګړې توګه پر پښتونخوا وطن باندې د غلامۍ توري پردې غوړېدلې وې. خان شهید عبدالصمد خان اڅکزی په قبیلوي لحاظ اڅکزي وو. اڅکزۍ قبیله دا وخت هم په افغانستان او پاکستان دواړو هېوادونو کښې تقسیم ده. له بده مرغه د ډېورنډ له لوظ نامې وروسته ټول پښتون قام بشمول اچکزۍ قبیله هم ووېشل شوه. اڅکزي په لوئ سر کښې دوې ښې لري چې بیا په هره ښه کښې دننه نورې ډېر ښې شته لکه په لاندینۍ شجره یې مونږ په لنډه توګه پېژندلی شو.

**اچکزی**

| | |
|---|---|
| ګوجن زی | بادین زی |
| حمید زی | کاکوزی |
| ملېزی | شمشوزی |
| اشیزی | غبیزی |
| عثمان زی | حسن زی |
| نصرت زی | پانیزی |
| | پیر علي زی |

خان شهید په اڅکزیو کښې ګوجن زی دی او په ګوجن زي کښې له حمیدزۍ ښې سره تعلق لري. حمید زي بیا په درې پلاره دي، دوری، جلیزی، مالي زی. خان شهید په حمیدزۍ کښې بیا له جلیزي سره تعلق لري. حمید زي هم د نورو اڅکزیو غوندې په افغانستان او پاکستان کښې اباد دي. په حمیدزیو کښې ډېر نامتو او وطن دوست کسان تېر شوي دي. دغه قبیله په توبه اڅکزۍ، قلعه عبدالله، ګلستان کاریز او عنایت الله کاریز کښې مېشت ده. تر خان شهید له مخه او له خان شهید وروسته یې هم د سامراج په ضد تاریخي مبارزې کړې دي خو په ځانګړې توګه خان شهید په کښې د لمر غوندې څرګند دی.

"د پښتونخوا دغه لوئ سیاستمدار لیکوال په 1907ء عیسوي کښې د جولایي پر اوومه نېټه د پشین د ګلستان په بازار پورې په عنایت الله کاریز نومي کلي کښې پیدا شوی دی. دی د نور محمد خان زوئ د سلطان محمد

خـان لمسـی د عنایـت الله خـان کړوسـی د بوسـتان خـان کوسـی او پـه قبیلـوي لحـاظ اڅکـزی پـه اڅکـزو کښـې ګـوجین زی پـه ګـوجین زو کښـې حمیـد زی پـه حمیـد زو کښې جلیزی او په جلیزو کښې د برخوردارخان له تاریخي کاله څخه دی"(1).

"د خـان شـهید عبدالصـمد خـان اڅکـزي پـلار نورمحمـد خـان نومېـدۀ چـې د هغـۀ پـلار سـلطان محمـد خـان د هغـو پـلار عنایـت الله د هغـو پـلار بوسـتان او د هغـو پـلار نـامتو برخـوردار خـان وو چـا چـې د احمـد شـاه بابـا پـه حکومـت کښـې اهـم حېثیـت درلـود او د پـاني پـت او نـورو جګـړو کښـې يـې هـم برخـه اخسـتې وه. د برخـودار د کهالـۀ عبـدالله خـان اڅکـزی پیـاوړی افغـان ؤ چـې د امـین الله خـان لـوګري او نـورو ملـي اتلانـو سره پـه ملګرتیـا يـې د لـومړي انګرېـز افغـان جګـړې پـه دوران کښـې پـه **1841**ء کښـې د فرنګـي اسـتعمارګر برنـز پـه وژلـو سـره د انګرېـز پـه خـلاف د لـومړي بریـالي افغـان ملـي پـاڅون سـر کښېښـود چـې پـه نتیجـه کښـې يـې د فرنګـي ټـول اسـتعماري لښـکر او شـجاع خـتم شـو او د فرنګـي د دې تـاریخي مـاتې او بـې عزتـۍ حـال رسـولو لـه پـاره يـو نـیم ځـان ډاکټـر برائیـډن پـاتې شـو. پـه دا دوران کښـې عبـدالله خـان اچکـزی او د هغـۀ يـو ورور او دوه زامـن شـهیدان شـول چـې لـه کابـل سـره نـزدې ښـخ دي. د پښـین ضـلعې قلعـه عبـدالله هـم د دۀ پـه نامـه یادیږي"(2).

کـه پـه تـاریخي تنـاظر کښـې وګـورو نـو دې قبیلـې ډېـرې زیـاتې قـامي قربـانۍ ورکـړې دي او دوئ تـه دا افتخـار ور پـه برخـه شـوی دی چـې کلـه يـې هـم پـه هېـواد بانـدې چـا یرغـل کـړی کـه د تـاریخ پـه پـاڼو کښـې ورتـه وکتـل شـي پـه پښـتانۀ قـام بانـدې د بهرنیـو یرغلګـرو پـه ضـد بـه دا قبیلـه همېشـه د پښـتانۀ قـام پـه دفـاع کښـې بـه لـه نـورو پښـتنو قبیلـو سـره بـه اوږه پـه اوږه ولاړه وه. کـه د مغلـو خـلاف او کـه د مرهټـه پـه ضـد یـا انګرېـز اسـتعمارګر خـلاف جنـګ رامختـه شـوی دی دوئ ځـان نـۀ دی سـپمولی او د وطـن پـه دفـاع کښـې دغـه توریـالي هـر وخـت د جنـګ پـه لومړي صف کښې ولاړ پاته شوي دي:

"خـان عبدالصـمد خـان اڅکـزی چـې نـن د شـهید خـان پـه نامـه شـهرت لـري. اتیـا کالـه وړانـدې د جنـوبي پښـتون خـوا د ګلسـتان د عنایـت الله کـاریز پـه کلـي کښـې د نـړۍ پـه مـخ سـترګې پرانسـتلې وې. د دۀکـورنۍ د پښـتنو اڅکـزو قبیلـې تـه منسـوب ده. او پـه دغـه قبیلـه کـې د حمیـد زۍ پښـې سـره اړه لـري. پـه هغـو

وختونـو کښـې چـې خـان شـهید دې نـړۍ تـه راتـې د دهٔ پلرنـۍ سـیمه د معـروف انګلیسـي جنـرال سـر سـنډیمن د پـلان پـه اسـاس د شـلمې پېړۍ پـه اوایلـو کښـې د برتیـانوي هنـدو سـرائې لارډ کـرزن پـه تکشـیلاتي نقشـه کښـې د بـرېټش بلوچسـتان پـه سـاحه کښـې دپشـین د تحصـیل سـره تړلـې وه. د پشـین تحصـیل چـې د کـوټې او د پشـین د ضـلع پـه چوکـاټ کښـې شـامل ؤ. درې غـټ کلـي ګلسـتان، کهالـه عبدالله او عنایت الله کاریز د افغانستان سره په همجواري کښې واقع دي."(3).

د ابـراهیم عطـائي د لیکنـې پـه رڼـا کښـې انګرېـز سـامراج د پښـتانهٔ وطـن دا برخـه چـې د افغانسـتان څخـه را جـلا کـړه نـو پـه هندوسـتان کښـې یـې شـامله کـړه او پـه دې سـیمه یـې د بـریټش افغانسـتان پـر ځـای د بـریټش بلوچسـتان نـوم کښېښـوو. دا د انګرېـز دښـمني وه چـې لـه پښـتنو سـره یـې کولـه. ولـې چـې د بلـوڅ پـه نیولـو کښـې چـې کـوم وخـت مزاحمـت وشـو. نـو پـه بلوڅـانو کښـې هـم انګرېـز خپـل روزل شـوي خلـك پیـدا کـړي وو او انګرېزانـو د هغـو وطـن فروشـانو پـه ذریعـه هغـه وطـن دوسـت بلوڅـان لـه اقتـدار څخـه محـروم کـړل او د خپلـې خوښـې کسـان یـې د قـلات پـه تخـت کښېنول. او دغسي یې ټول بلوڅ تر خپل نظارت لاندې ساتهٔ.

خـان شـهید پـه خپلـه سـوانح عمـري کښـې د خپـل پیـدایش ذکـر کـړی دی لـه ننـه څخـه سـل کالـه وروسـته د دې علاقـې داسـې حالـت نـهٔ ؤ لکـه اوس چـې دی. لـومړی خـو پسـماندګي زیاتـه وه او ابـادي کمـه وه، تعلیـم نـهٔ ؤ. او ډېـره کمـه مـوده شـوې وه چـې انګرېـز دغـه علاقـه لـه افغانسـتانه را جـلا کـړې وه. لـه کـوټې واخلـې د چمـن تـر باډر پورې دا یوه علاقه وه د بلوچستان قبایلي ضلعي ګزیټیر داسې لیکي:

"پـه **1901**ء پـه ضـلع کښـې درې قصـبې وې کوټـه، پښـین او چمـن دا درې سـره ضـلعې د برطـانیې لـه قبضـې وروسـته ظهـور پـذیر شـوې وې. پـه دغـه کښـې ډېـر اهـم چمـن دی او د چمـن اهیمـت د فـوځ لـه وجـه دی. پـه ضـلع کښـې کـاکړ، تـرین مشـموله اڅکـزی، کاسـی، غلـزی او نـور ابـاد دي او ورسـره سـادات، بلـوڅ، براهـوي. ظـاهره خبـره ده کـه افغـان پـه شـمول د سـیدانو تـر ټولـو زیـات دي او د میـزان **91** فیصـد دي او د براهـوي د کـل میـزان **8** فیصـد پـه نمبـر بانـدي راځـي. او د بلوڅ تعداد په وړو کښې د مالګې برابر دی.

افغان:

کاکړ **35452**

| | |
|---|---|
| ترین مشموله اڅکزی | 26691 |
| کاسی | 1064 |
| غلزی | 2104 |
| دیګر | 829 |
| میزان | 138، 66 |
| سادات | 7836 |
| بلوڅ | 656 |
| براهوی | 911، 6(4) |

له دې څخه مقصد دا دی چې د خان شهید پیدائش د کوټې او پشین په شمول د ګلستان سره تړلی عنایت الله کاریز کښې شوی دی. او له دغې علاقې د پښتانۀ قام دغه پیاوړی بچی را پورته شوی دی او هغه وخت یعنې د پاکستان تر جوړېدو له مخه او وروسته کوټه او پښین یوه ضلع وه.

د خان شهید تعلق له یوې ښې او علمي کورنۍ سره ؤ. او له په خوا راهیسې د پښتنو په کورونو کښې و ماشوم ته لومړنۍ زده کړې په کور کښې پلار او مور ورکوي او چې کوچنی لږ څۀ پوهـ شي بیا یې هغه مدرسې یا ماجت ته د مروجه علومو د حاصلېدو دپاره استوي. خان شهید له ماشومتوبه ډېر ځیرك او پوهـ ؤ او قدرت دۀ ته د کمال ذهن ورکړی ؤ. د عمر په پنځم کال یې لیك او لوست پیل کړ. دۀ هم د نورو پښتنو غونډې د اوو کالو په عمر کښې د خپل پلار په سرپرستۍ کښې د مروجه علومو کتابونه ولوستل چې په هغه کښې په خاص توګه عربي، فارسي، فقهه، حدیث، تفسیر او قرآن شامل وو. د شېخ سعدي ګلستان او د امام غزالي کتابونه یې ولوستل او له دې پرته یې د هغه وخت د پښتو ادبي او اولسي نکلونه، کیسې، د مشرانو کارنامې په کورنیو مجلسونو کښې اورېدل او هغه وخت له اسلامي علومو سره سره اولسي نکلونو، کیسو او د مشرانو کارنامو په پښتني ټولنه کښې ډېره مهمه برخه درلوده. او په دغسې اصلاحي کیسیو به مشرانو د خپلو کشرانو تربیت او روزنه کوله او له خپلو مشرانو، اکابرینو به یې ماشومان خبرول:

"خان بابا په یو علمي چاپېریال کښې پیدا او د خپل پلار له خوا په مثالي ډول وروزل شو. خو له بده مرغه په 1918ء عیسوي کال کښې نور محمد خان

په حق ورسېد او خپل نازولی فرزند یې تر شا پرېښوو. خو بیا وروسته د خان بابا روزنه خپلې درنې مور چې "دلبره" نومېده پر خپله غاړه واخیسته. خان بابا په دینې میدان کښې د تازي او پارسي کتابونه پر خپل ابا نور محمد خان، سید ایوب شاه، ملا آغا محمد، ملا عبدالرحمان، ملا شېر محمد ساګزي او مولوي باران باندې وویل. په دې ډول زمونږ او ستاسې دغه نومیالی فرزند د پارسي په څنګ کښې د فقهې، حدیثو او تفاسیرو ماهر وګرځېد. دغه راز د ښوونځي تحصیلات یې په ګلستانن کښې تر اتم صنفه پورې رسولي"(5).

مرحوم شېر علي باچا لیکي: "خان شهید ډېر تېز ذهن لرۀ، یاداښت یې حېران کوونکي وو ابتدایي تعلیم یې په کور او مسجد کښې حاصلولو. په شپږو او اوو کالو کښې یې د پارسي، تازي کتابونه ټول خلاص کړل او د امام غزالي کتابونه یې په ډېر شوق ولوستل. د لسو کالو په عمر کښې یې چې پلار وفات شو نو ځان یې یتیم محسوس کړو خو د پښتو ژبې سره د مینې او لوستو خواهش یې لازیات شو. د ګلستان په مډل سکول کښې یې داخله واخستله او په آزموینه کښې اول نمبر راغی"(6)

خان شهید لومړنۍ زده کړې په کور کښې تر سره کړې او بیا یې د رسمي تعلیم دپاره په ګلستان مډل سکول کښې داخله واخسته. رسمي تعلیم خان شهید تر اتم ټولګي پورې حاصل کړ خو له بده مرغه د پلار د مړینې له وجې دۀ نور تعلیم په مخ و نه کړای شو.

د پلار په مړینه خان شهید داسې لیکي:

"ژوند ښۀ په مزه روان ؤ چې پلار مې په کال 1918ء کښې چې د یورپ لومړۍ لوئ جنګ په تمامېدو ؤ. د پېچ ناجوړ شو هرڅه درمان چې کېدای شو و یې کړ. ګوپالداس یوناني درماني د کوټې او کریشنان ډاکټر له چمن څخه راغلی خو رنځ یې ښۀ نۀ شو او شل ورزې پس هغوی خپل خدای ته ورسېدۀ"(7).

د قرآن شریف د تفسیر په زده کړه خان شهید د مولانا ابوالکلام ازاد یو څو شپې شاګردي هم کړې وه. ولې چې مولانا ابوالکلام ازاد یو ډېر رسېدلی عالم ؤ. او د دۀ د قرآن تفسیر او ترجمه د خان شهید ډېره خوښه شوه. او خان شهید دۀ ته دا خواست وکړلو چې که ما په خپله شاګردي کښې قبول کړي نو مننه به مو وي.

خان شهید په خپل سوانح عمري" زما ژوند او ژوندون" کښې داسې لیکي:

"په ډيلي کښې مې يو وخت مولانا ابوالکلام ازاد ته وويل چې د خداى د کتاب په هکله د ځينو پوښتنو دپاره څۀ اوزګار وخت راکړه، ويل يې: "سبا سهار چې هر څومره وختي را رسېداى شې راشه". دوئ په دريا ګنج کښې اوسېدۀ او زۀ په سبزي منډۍ کښې، سهار په درې بجې پاڅېدم هغه وخت ټانګې، ټرام يا بله سواري هم نۀ وه، نژدې څلور يا پينځۀ ميله په پښو ولاړم، په څلورنيمې بجې ور ورسېدم هغوئ تيار ناست وو، شنې چاى لانۀ وې راغلې ساعت وروسته راغلو، تر اتيمو بجو چې نور خلك راتلل، ښۀ سره وغږېدو، زياتره وخت د خداى په كتاب او وروسته بيا د بلوچستان په هكله، د خداى د په كتاب دهغوئ پوهه او خبرتيا لكه څنګه چې څرګنده ده ډېره ژوره وه. په ډېرو ځايو چې په خوا نه رسېدم دوئ پوهه كړم خو د پيغمبرانو د نادرو (معجزاتو) په هكله پس له ډېرو خبرو هم ما د دونې رو نه سو منلاى كه څۀ هم د خداى د كتاب هغه ټولې خبرې چې زياتره ملايان د يهودو د بې سرو يا بې لودو (اسرائيليات) له معنى نادرې (معجزات) ترې جوړې كړې دوئ هم سم او رواجي خبرې ګڼلې"(**8**).

خان شهيد مولانا ابو الكلام ازاد ډېر له نژدې ليدلى ؤ او څو ورځې يې د هغۀ شاګردي هم كړې وه. او دا د ابوالكلام ازاد له خان شهيد سره مينه وه څكه ئې په شاګردۍ كښې له ځان سره كړلواو خان شهيد هم د دۀ له علم او پوهې څخه پوره پوره استفاده وكړه. خان شهيد چې د دۀ د تفسير مطالعه وكړله نو يې اجازه ځنې واخيسته چې هغه په پښتو كښې وژباړي. او خان شهيد د دې ذكر په خپله سوانح عمري كښې كړى دى خو له بده مرغه تر اوسه دا ژباړه چاپ نۀ ده.

**دخان شهيد ادبي خدمات**: خان شهيد د خپل وخت يو ډېر عالم او فاضل شخصيت ؤ كه څۀ هم رسمي تعليم يې تر اتم جماعته پورې كړى ؤ. خو كله چې دۀ قامي او سياسي كارو ته لاس ورواچاوۀ نو د رسمي تعليم چې په سكولونو او كالجونو كښې كېداى د هغه يې ډېر كمى محسوس كړ. خو دى ډېر همت ګرى سړى ؤ. د هغه وخت هم دومره غير رسمي تعليم او زده كړه كړې وه چې په هغه كښې ديني او دنياوي علوم دواړه شامل وو. خان شهيد د خپل وخت اهم ليكوال

ؤ. اديب ؤ، مترجم ؤ، نقاد ؤ، محقق ؤ، د خطوطو ډېر ماهر ؤ. سوانح حيات يې په ډېر علمي انداز او ادبي پيرايه کښې ليکلى دى. د خان شهيد هر اړخ دومره وسيع او پراخ دى چې په هغه باندې په درزنو مقالې ليکل کېدلى شي.

"د برصغير په سياست او سياستدانانو کښې د بابائې پښتون يو منفرد او ممتاز مقام دى او بيا په جنوبي پښتونخوا کښې خو له دې عظيمې هستۍ سيوا بل هېڅوك نۀ ښکاره کېږي. دا پوره پېړۍ د بابائې پښتون ده. او که په را روان وخت کښې څوك پيدا کېږي نو په هغۀ باندې به هم د بابائې پښتون اثر پروت وي البته په پېړيو کښې به بيا داسې ښاغلي پيدا کېدل ډېر ګران وي"(9)

پروفيسر سيال کاکړ ليکي:

"شهيد ملت خان عبدالصمد خان نه يوائې د ګرانې پښتو يو لوئ پلوي ؤ بلکې مونږ دغه پتوال پښتون د خپلې ژبې د هغو خوږ ژبو ليکوالو په کتار کښې دروو چې د خپلو هر اړخيزو ليکونو له کبله د اولې درجې حق لري. شهيدِ ملت د پښتو لېواله او د دغې تاريخي ژبې يو بې مثاله پتنګ ؤ. د سعديِ ګلستان يې په پښتو وژباړۀ. پښتو ډکشنري يې جوړه کړه. زما ژوند يې وکيښ. ترجمان القرآن، کيمايې سعادت او د شبلي نعماني د سيرة النبي اول ټوك يې په پښتو را واړول. پښتو ژبه او ليکدود يې ادبوالو ته وړاندې کړلو او ازادې افق يې مونږ او تاسې وليدل"(10)

خان شهيد چې څومره خوارې او مبارزه په سياست کښې کړې ده. تر هغه دوه ګونه مبارزه يې د پښتو ژبې او ادب دپاره کړې ده. د پښتو ژبې او ادب دپاره داسې علمي او ځانګړي کارونه کړي دي چې په دا سيمه کښې هېچ چا نۀ دي کړي او که کړي يې هم وي هغه يې فقط تر خپل ځانه محدود ساتلي وي. د خان شهيد ادبي کار يو قامي کار دى چې په هغه کښې يو اجتماعي سوچ خپور شوى دى. که مونږ د دۀ ادبي آثارو ته وګورو نو هغه په پښتني ټولنه کښې ډېر د اهميت وړ کار دى. که څۀ هم اختلاف ورسره کېداى شي خو له دې هېڅوك هم انکار نۀ شي کولى چې علمي او د ژبې د خدمت دپاره يې کار نۀ دى کړى.

په ادبي کارونو کښې د شېخ سعدي ګلستان، د ابوالکلام ازاد ترجمان القرآن، د شبلي نعماني سيرة النبي لومړى ټوك او د امام غزالي کيمائې

سعادت پښتو ته ژباړل د ټولنې او په ځانګړي ډول د پښتني ټولنې دپاره ډېر ضرورت ؤ. ځکه چې دا ټول د داسې عالمانو کتابونه دي چې د علم او ادب په میدان کښې د اسمان په لوړو منارو کښې د لمر غوندې ځلیږي.

**پښتو لیک دود او ژبه**: خان شهید د پښتو ژبې د لیك دود دپاره یو نوې املاوضع کړه او دا یې دلیل وایهٔ چې مونږ باید پښتو له عربي او فارسي ژبو څخه په خپل امتیازي شکل کښې ولیکو او د تورو ادائیگي چې مونږ په صوتي لحاظ څرنګه ادا کوو باید چې په لیك کښې یې هم هغسې ولیکو. او په باقاعده ډول یې دالیك دود وضع کړی ؤ او د پښتو ژبې د لیکوالو او پوهانو مخې ته یې وړاندې کړلو. خو له بده مرغه د خان شهید له سیاست سره د اړیکو له کبله هغه لیك دود عملي نهٔ شولو او د ځینو نورو ذاتي اختلافاتو له وجې خلکو د دهٔ له لیك دود سره هم اختلاف یواځې د کینې او حسد په بنیاد څرګند کړلو.خان شهید د خپل لیك دود په اړه لیکي:

"د ډېره وخته مې دا زړهٔ غوښتل چې د پښتو ژبې ژبور او پوهان یو ځای غونډ شي او ورسره د ژبې د هغې د ودې او سبا (مستقبل) په هکله خبرې وکم چې په ګډه یوه داسې لار پیدا کړو چې دا زمونږ ژبه هم په جهان کښې سر لوړې او د سیالانو سره سمه شي. په کم ارمان کښې چې ښاغلي خوشحال خان ختك ډېر په خوا ویلي ؤ:

که تازي ژبه هر ګوره ښه ده
پارسي هم ډېره، په خوند خوږه ده

چا یې پلو د جمال وا نهٔ خیست
پښتو لاهسې بکره پراته ده

او په کوم ارمان چې رحمان بابا، ښاغلي همید، الي خان او په سوو نورو پخوانو او اوسنو پوهانو په خپل وخت کې ډېر سوځنده پوهیتي ویلي او لیکو نې لیکلي دي. خو د پښتو پور جمال لاهغه شان پلو پروت دی"(11)

د خان شهید دا ارمان ؤ چې مونږ خالصتاً پښتو توري په خپل لیك کښې استعمال کړو نو دا ډول به د پښتو په لیکلو او ویلو کښې اساني وي ولې چې د نورو ژبو کوم توري چې زمونږ لیك دود کښې دي د هغو تورو په ځای زمونږ په

ژبه کښې خپل نور توري شته نو په کار ده چې مونږ خپل توري استعمال کړو او اضافي توري باید چې له خپلې ژبې وباسو او هغه توري استعمال کړو چې زمونږ په خپله ژبه کښې وجود لري.

"خان عبدالصمد خان اڅکزی چې د پښتو یو لوی پلوئ او خواخوږی ؤ دا یې د زړګوټي ارمان ؤ چې پښتو په علمي او ادبي میدان کښې پر مخ ولاړه شي. د پښتو دې لوئ سیاسي مبارز او ادبي شخصیت د پښتو ژبې او لیك دود په باب خپل شخصي نظر په خپل ژوند کښې ښکاره کړی ؤ. خان عبدالصمد خان اڅکزي د پښتو د معیاري لیك دود په باره کښې خپل نظریات د **36** مخونو په "پښتو ژبه او لیك دود" نومي رساله کښې ادبوالو ته وړاندې کړل. دغه کتابګوټی په **1965**ء کال د جون په میاشت کښې د خلکو تر لاس پورې ورسېد "(12)

"خان عبدالصمد خان په دې عقیده ؤ چې له پښتو څخه د پردیو ژبو غږونه واخیستل شي په تېره بیا د عربي. دا په دې چې پښتانهٔ د عربي اوازونو سم تلفظ نه شي کولای. د نوموړي په فکر که چېرې د عربي غږونه لکه ث، ص، ض، ظ، ع، ف، ق او ځینې نور وایستل شي نو دا به د پښتو په ګټه تمام شي. د خان عبدالصمد خان په عقیده د پردیو ژبو اوازونه او توري خپلول د مریتوب نخښه ده. پښتانهٔ دا کار باید هېڅ کله و نهٔ کړي"(13)

پښتانهٔ همېشه د خپل کورني چګان او بدنیتي څخه د دنیا په ژوند او په علم کښې شا ته پاتې دي. د هرې ژبې قدر کول په کار دی، عزت او احترام یې په مونږ لازم دی خو دومره هم نهٔ چې خپله ژبه را نه هېره شي او نن مونږ پښتون قام له دې قامي تاوانه سره مخامخ یو چې همېشه مونږ د بل دپاره قربان شوي یو خو چې زمونږ د ګټې ځای راشي بیا مونږ هم د انسانیت او ملت مذهب په تاوان شو او بیا په مونږ باندې دښمن نوي نوي نومونه کښېږدي. دا د خان شهید په ذهن کښې ؤ چې هغهٔ غوښت خپله ژبه په اصل شکل کښې د غږونو په بنیاد ودروي او ورسره ورسره پښتون ته په دې وطن کښې خپل نوم پیدا کړي چې د پښتانهٔ انساني، اسلامي او اخلاقي حق دی.

**پښتو قاموس یا صمد اللغات**: خان شهید په خپل ژوند کښې د ګرانو تورو یوه ذخیره جمع کړې وه او د هغو تورو معنا هم ورسره وې. دا ځکه چې په یوه

ژوندی ژبـه کښـې لغـات دېـر اهميـت لـري. پـه هـره ژبـه کښـې بـې شـماره داسـې تـوري وي چـې د هغـو معنـا د چـا نـۀ وي زده د هغـو تـورو د زده کـړې دا ضـروري ده چـې ژبپوهـان هغـه را ټـول کـړي او خلکـو تـه يـې وړانـدې کـړي. چـې پـه دې سـره پـه ژبـه کښـې نـور وسـعت راځـي. خـان شـهيد پـه ټـول پښـتني وطـن کښـې ګرځېـدلی وو او د هـرې علاقـې هغـه تـوري يـې پـه خپـل قـاموس کښـې را ټـول کـړي وو چـې د هغـو ضـرورت هـر چرتـه شـته او خـان شـهيد د اولـس د اسـاتنيا دپـاره دغـه علمـي او لـه خـوارۍ ډك كـار هـم وكـړ. او لـه دې لغـات څخـه د هـري سيمه پښـتانۀ ډېـره ګټـه اخسـتلای شـي. دا كـار ځكـه د اهميـت وړ دی چـې پـه هـره علاقـه كښـې داسـې تـوري وي چـې د بلـې سـيمې خلـك نـۀ پـه پـوهېږي. خـان شـهيد تـه د دې انـدازه وه ځكه يې دا كار كړی دی.

خـو د پښـتو مينـه د خـان ملـت پـه رګ رګ كښـې نـوتلې وه دی د خپلـې ژبـې يـو لـوئ پلـوي او بـې مثـال شـيدايي وو. پښـتو ډكشـنري (Pashto Dichianary) لـه پښتو سره د خان ملت د ميني يو لوئ دليل او ځرګند ثبوت دی.

خـان شـهيد پښـتو لغـات پـه ډېـره كـره كتنـه ليكلـي دي د پښـتونخوا پـه سـيمي كښـې چـې كـوم تـوري اسـتعمالېږي هغـه يـې ټـول سـره را جمـع كـړي دي. د پښتو په دغه لغات كښې د هر توري معنا په ډېر اسان توري سره شوې ده.

فيـوچر آف فريـډم (Future of Freedom) ترجمـه پـه پښـتو او پـه اردو كـول دا يـو ډېـر ګټـه ور كتـاب دی. نـو خـان شـهيد لـه مطالعـه كولـو وروسـته دا ضـروري وبالــه چــې دا زمــونږ د معاشــرتي ژونــد ضــرورت دی او دا ډول خــان شــهيد د "چارلـټ او ډالـين كـارټر" دغـه د انګريـزي ژبـې كتـاب يـې پـه پښـتو كښـې "د ازادۍ پای" په نامه او په اردو كښې "آزادی كا افق" په نامه وژباړلو.

"**زمـا ژونـد او ژونـدون**" (**سـوانح عمـري**) : سـوانح عمـري ليكـل يـو ډېـر لـوئ فـن دی كـه څـه هـم دا د تـاريخ برخـه ګرځـي لېكـن اديبـان دغـه هـم د ادب يـوه اهمـه برخـه بـولي. خـان شـهيد تـر خپلـه وسـه پـه خپلـه سـوانح عمـري كښـې هغـه ټـولې خبـرې بيـان كـړي دي چـې هغـه زمـونږ پـه معاشـرتي ژونـد كښـې وجـود لـري. انسـان همېشـه د نـوي شـي پـه تـلاش كښـې وي. د خـان شـهيد دپـاره هـم دغـه نـوی شـی ؤ چـې د انسـانانو د ازادۍ، برابـرۍ، اخلاقيـاتو، شـعور، تعلـيم دپـاره پـه ايمانـداري

سیاست وکړي. دا هغه شیان دي چې خان شهید خپل ټول ژوند په دغه تلاش کښې تېر کړی ؤ. او د دۀ سوانح عمري د دغې پلټنې ډېره ښه نمایندګي کوي.

"که څه هم سوانح د تاریخ ښاخ دی لېکن د ډېرو خصوصیاتو په بنا د دۀ شمار هم په ادب کښې کیږي. اوس انسان صرف د انسان پیدایش، خاندان، تعلیم، مشاغل، ژوند او مرګ نه بیانوي بلکې د فرد ظاهر و باطن خوئ و خاصیت، اخلاق او معاشرتي ژوند، وراثت او نفسیاتي حال او هغه د ژوند د لاندې او باندې یو داستان جوړ شوی دی. اوس د سوانح نګار دپاره هغه ټولې خبرې د پاملرنې وړ دي چې په هغه کښې د شخصیت جوړښت او یو مکمل تصویر په جوړېدو کښې مددګار وي"(14).

سوانح عمري د انسان د خپل ژوند هینداره وي چې دۀ په خپله د ژوند تیرې شوې پېښې بیان کړي وي. او په هغه کښې حقیقت پسندي ښکاره وي. د مبالغې څخه کار نۀ اخلي. ولې چې سوانح په خپله د ادب یوه پانګه ده. د سوانح عمري په بیان کښې ښایست او د پېښو ترتیب بنیادي شیان دي. نو په دا ډول د هغۀ سړي شخصیت ډېر په واضح توګه مخ ته راځي او په هغه کښې حقیقت ښکاره کېږي. ولې چې د هر سړي ژوند په خپله یوۀ نوې قصه یا نکل دی او هغه ته یو فني ترتیب ورکول یو جلا ادبي لاره ده.

پروفیسر سیال کاکړ لیکي: "زما ژوند په خپله غېړ کښې د خان ملت سیاسي مبارزه او ځینې نورې خبرې را نغاړي. د خان بابا دغه ګټور او په زړۀ پورې اثر مونږ او تاسې په هرځۀ خبروي. زما ژوند یا په بل عبارت د خان ملت سوانح (Biography) په څلورو کاپیانو کښې خوندي او د ملي لیکوالو له خوا د چاپ په انتظار ده. څرګنده دې وي چې زما ژوند د اولې کاپۍ په 260 مخونو دویمه کاپۍ په 260 مخونو درېیمه کاپۍ په 182 مخونو او څلورمه کاپۍ په 87 مخونو ښې زېره شوې چې په دې ډول زما ژوند د څلورو سروو کاپیانو په 790 مخونو کښې ځای شوې دي"(15).

د خان شهید سوانح عمري "زما ژوند او ژوندون" په خپله د ادب او فن یوه ډېره لویه نمونه ده چې په دې کښې خان شهید هغه ټول واقعات او قصې راجمع کړي دي له کومو سره چې دی مخامخ شوی ؤ. د دۀ له سوانح مطالعه کولو دا څرګندیږي چې په ډېره ایمانداری یې هغه ټول واقعات بیان کړي دي

چې دۀ په ژوند کښې ليدلي وو. پروفيسر عبدالغني خان غنو له ډېرې خوارۍ وروسته ډېر کامياب شوی دی چې د خان شهيد سوانح عمري يې په درې ټوکه کښې چاپ کړې، چې لومړی ټوک په **392** مخونو دويم ټوك په **548** مخونو او درېيم ټوك په **431** مخونو او ټول په **1371**مخونو مشتمل دی. په دغه کتاب کښې د خان شهيد له زوکړې واخلې بيا تر درېيمه ټوکه چې دۀ پېښور ته تګ او له باچاخان او د هغو له ډلې سره ډېر پروګرامونه او تکليفونه ليدلي دي، دا ټولې خبرې په کښې خوندي دي. دا د دۀ د ژوند هغه تاريخي دوره ده چې د انګرېزي استعمار له متحده هندوستان څخه را پېل کېږي او په دغه دوره کښې کومې اهمې سياسي او تاريخي پېښې را منځ ته شوې دي هغه خان شهيد له ډېره نژدې ليدلې دي. د دۀ سوانح عمري د پښتنانۀ په ثقافتي دودونه په اخلاقي، قومي، او ملي روايــاتو باندې مشتمله ده. دۀ په خپل سوانح عمري کښې هغه ټولې خبرې راوړې دي چې له دۀ او زمونږ له معاشرتي ژوند سره تعلق لري. د هر قام او هرې ټولنې تاريخي اهميت د هغو له ثقافته ښکاره کېږي. نو خان شهيد هم د پښتنانۀ قام ثقافتي اړخونه بيان کړي دي او کوم اړخونه چې د ټولنې په تاوان تمامېږي هغه يې هم په ګوته کړي دي:

"عبدالصمد خان شهيد چې په هره شعبه کښې طبع ازمايي کړې ده. په هغه کښې پياوړی او بريالی ښکاره شوی دی. په سياسي مبارزه کښې دی يو نامتو ساستدان وو. د ادب او صحافت او د علمي خدماتو احاطه کول يې ډېر ګران کار دی هغه صرف د وينا د فن او اصول څخه مکمل خبرتيا نه درلوده بلکې د وينا د اثر او په مقصد هم خبر وو. او په نظرياتو باندې عمل کوونکی هم وو. د دۀ په سوانح عمري کښې مونږ وينو چې هغه صرف د خپلو نظرياتو او افکارو مختلفې لورې او ژورې بيان کړې دي بلکې له دې څخه مونږ په دې ثبوت رسېږو. چې هغه کله هم د خپلو خيالاتو او نظرياتو څخه تېرى نۀ دی کړی"(**16**).

واقعي خان شهيد په خپل چاپېريال کښې يو ډېر لوئ او عظيم انسان ؤ. د خان شهيد مبارزه د خپل ځان او ذاتي نۀ وه بلکې د برصغير پاك و هند د هغه مظلوم او محکوم عوام دپاره وه. کوم چې هغه په ژوند کښې له ډېرو ستونځو او کړاوونو سره مخامخ وو. او د دۀ ادبي خدمات هم مونږ ته دا سبق راکوي چې انسان بايد د انسان دپاره او د معاشرې او قام د سوکالۍ دپاره او د مظلومو

محکومو انسانانو دپاره د خپل ژوند شپې سبا کړي. هم دغه انسانيت پښتو ده. کوم چې د انساني ژوند اصل مرام او مقصد دی.

**شهادت او قبر**: د خان شهيد شهادت په عامه توګه د نړۍ د ټول مظلوم او محکوم اولس دپاره او په ځانګړې توګه د پښتنائه قام دپاره يوه ډېره لويه حادثه وه. دا يوه بربنډه خبره ده چې د خان شهيد قتل يو سياسي اقدام ؤ. چې د وخت د پښتنائه قام ازلي دښمنانو، خاينانو او د حکومت خفيه ادارو او د هغو روزل شويو او قام فروشو سردارانو، نوابانو، خانانو ټولو په کښې لاس درلود. دا په اصل کښې د خان شهيد دښمنان نۀ بلکې د هغۀ د نظريې، سوچ او فکر دښمنان وو. چې هغه فکر اوس په زرګونو خلکو خپل کړی دی. که څه هم خان شهيد زمونږ له منځه ولاړ خو هغه ته خدای پاك د شهادت مرتبه ورکړه او قاتلان يې د تل دپاره خوار او ذليل ځکه شول چې هغه نظريه او هغه فکر کله هم څوك نۀ شي ښبانه کولای:

"عبدالصمد خان د پښتو قوميت دپاره په خپل ټول ژوند کښې د جېل کړاوونه او تکليفونه برداشت کړو. د دې دپاره چې پښتنائه يوه متحده صوبه جوړ شي. اخير يې په ۲ دسمبر **1973**ء کښې سهار په څلور بجې په دستي بم شهيد کړئ"(**17**).

مرګ حق دی خو په ناترسۍ يو انسان وژل ظلم او بربريت دی او هغه هم داسي انسان چې خپل ټول عمر يې د نورو انسانانو د ازادۍ او خپلواکۍ دپاره په زندان خانو کې تېر کړی وي. او ټول عمر يې په مبارزه او ادبي و علمي کارو کښې تېر کړی وي.

"دا يوه ډېره لويه الميه ده چې د عدم تشدد دغه پيروکار په ډېره ناترسي او په ظلم يې د تشدد ښبان جوړ کړ. او په **2** دسمبر **1973**ء کښې يې د شپې په خپل کور کښې د دستي بم په ذريعه مړ کړ. خو د دۀ مرګ د سوچ او فکر او د پارټۍ ختم پر ځای د هغه د پرمختګ سبب جوړ شو"(**18**).

د خان شهيد مرګ د يو انسان مرګ نۀ دی بلکې د ټول انسانيت، د نظريې او فکر مرګ دی. د برصغير د نيمې وچې د ټولو مظلومو او محکومو د مبارزې او د ازادۍ مرګ دی. د فرهنګ او د پښتو ادب مرګ دی. دا د خان شهيد د مبارزې او ادبي خدماتو نتيجه ده چې د دۀ فکر او نظريه زمونږ په

زړونو کښې ژوندی ده او د هر انسان په زړۀ کښې له خان شهيد سره مينه د تل دپاره ژوندی ده او د دښمن ناوړه عمل تر سره نۀ شو.

"په 1973ء د 2 دسمبر شقي القلب استعمارانو د دلالانو په لاس د خوب په دوران کښې شهيد کړ. او په 3دسمبر 1973ء دغه شمع فروزاں بطل جليل په کم و بيش د 60 زرو انسانانو په موجودګۍ کښې په خپل ابايي کلي ګلستان کښې و خاورو ته وسپارلۍ"(19).

د تېرو اووه دېرشو کالو څخه خان شهيد د ګلستان د شهيدانو په اديره کښې پروت دی او د پاکستان د واکدارانو، سياستمدارانو، سياسي پارټيانو، مذهبي علماوو او قوم پرستانو څخه دا غوښتنه ده چې د دۀ ګناه څه وه چې په دومره ناترسۍ مو په شهادت ورساوۀ.

د خان شهيد پور اخستل په مونږ ټولو باندي واجب دی. د پور اخستل دا معنا نۀ ده چې مونږ د کرايې روزل شوی يو فرد مړ کړو بلکې چې مونږ د خان شهيد په نظريه، سوچ او فکر عمل وکړو. دا هم د دۀ د ښمن مرګ دی. د مظلوم او محکوم اقوام، د پښتنو د ازادۍ او د خپلواکۍ دپاره مبارزه ته دوام ورکول دا د خان شهيدارمان ؤ او دا ارمان چې مونږ مخ په وړاندې بيايو نو همدغه د خان شهيد له دښمنه پور دی چې مونږ يې په ښلا ښېلو طريقو د دۀ له دښمنه اخلو.

**محاصل**: خان شهيد چې کوم علم ترلاسه کړی دی هغه که ديني دی که عصري هغه يې ټول په غير رسمي توګه ترلاسه کړی ؤ. په هيڅ يوه مدرسه او کالج کښې يې رسمي زده کړې نۀ دي کړې. د غير رسمي زده کړو لامل يې د علم تنده وه چې تر هندوستان پورې يې د پلار د مرګ وروسته تل ځوانان په پله او لاره ځي خو خان شهيد د علم او آګهي سره مخ کېږي. او له کومه ځايه تر کومه ځايه ځان رسوي. په ادبي خدماتو يې سهېلي پښتونخوا کښې په بنيادي خلکو کښې ځان راپورته کوي او د يو حقيقت پسند اديب په بڼه کښې په سهېلي پښتونخوا کښې راته کېږي او دا اثرات په ټول ادب باندې خورېږي چې د دۀ له مبارزې سره سم دلته د ادب نهال ته هم اوبه خور ورکول کېږي.

# حوالې


(1) کاکړ، سیال، پروفیسر، د کسې د لمنې پښتانۀ لیکوال، دویم ټوک، بولان بك كارپوريشن کوټه، اپرېل 1983ء مخ 346.

(2) د ننګ او فرهنګ اتل شهید عبدالصمد خان اڅکزی، د افغانستان سیمه ییزو مطالعاتو مرکز، 2008ء مخ 25.

(3) عطائي، ابراهیم، مشمولۀ د خان شهید یاد، د بین المللي سیمینار د مقاله ټولګه، د سنبلې نهم 1370هـ مخ 22.

(4) بلوچستان کے قبائل (ضلعی گزیٹئر سے انتخاب) ترجمه پروفیسر انور ارمان، روبي پبلشرز، رستم جي لين جناح روډ کوئټه. ص 14- 34.

(5) کاکړ، سیال، پروفیسر، د کسې د لمنې پښتانۀ لیکوال، دویم ټوک، بولان بك كارپوريشن کوټه، اپرېل 1983ء مخ 327

(6) باچا، شېرعلي، مشمولۀ د خان شهید سیمینار، 19- 20 مارچ 1990ء، افغانستان، کابل، شعبه نشر و اشاعت پښتونخوا مېپ کوټه، مخ 97.

(7) شهید، خان، عبدالصمد خان، اڅکزی، زما ژوند او ژوندون، مرتب پروفیسر عبدالغني خان غنو، پښتونخوا ادبي څانګه، 2004ء کوټه، مخ 123.

(8) ایضاً، مخ 487.

(9) غنو، عبدالغني خان، بابائے پشتون اور پشتونخوا، دویم جلد، قلات پریس کوئٹه. اشاعت 1990ء، ص 8.

(10) کاکړ، سیال، پروفیسر، د کسې د لمنې پښتانۀ لیکوال، دویم ټوک، بولان بك كارپوريشن کوټه، اپرېل 1983ء مخ 350.

(۱۱)) شهید، خان، عبدالصمد خان، اڅکزی، زما ژوند او ژوندون، مرتب پروفیسر عبدالغني خان غنو، پښتونخوا ادبي څانګه، 2004ء کوټه، مخ 21.

(12) کاکړ، سیال، پروفیسر، نثري انځور، پښتو ادبي بورډ، کوټه، یونائیټډ پرنټرز کوټه، دسمبر 2005ء، مخ 64.

(13) ایضا، مخ 65

(14) فرمان، فتحپوري، ډاکټر، اردو نثر کا فنی ارتقاء، اردو اکیډمی سندھ کراچی، سن اشاعت 1989ء، ص196.

(15) کاکړ، سیال، پروفیسر، د کسې د لمنې پښتنانۀ لیکوال، دویم ټوک، بولان بك کارپوریشن کوټه، اپریل 1983ء مخ460

(16) پانیزی، فیض الله خان، پروفیسر، خان شهید عبدالصمد خان اڅکزئی کی شخصیت اور علمي خدمات، سن اشاعت اکتوبر2009ء، ص 96.

(17) بلوچ، اختر علی، بلوچستان کی نامور شخصیات، جلد اول، رائل بك کمپنی کراچی، 1994ء، ص 76.

(18) بگټی، محمد، عزیز، بلوچستان شخصیات کے ائینے مین، فیکشن هاؤس لاهور، 1996ء، 166.

(19) غنو، عبدالغني خان، بابائے پشتون اور پشتونخوا، دویم جلد، قلات پریس کوئټه. اشاعت 1990ء، ص 12.